# المعارج

مکی سورة دی ۴۴ آیتونه لری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَأَلَ سَآئِلُۢ بِعَذَابٖ وَاقِعٖ ﴿١﴾

( د عذاب) یو غوښتونکی( نضر بن حارث او ځینی نور کافران)د عذاب د راتګ غوښتنه کوی( او وایی که دا قرآن په حقه وی نو په مونږ له آسمانه د کانو باران راووروه).

لِّلۡكَٰفِرِينَ لَيۡسَ لَهُۥ دَافِعٞ ﴿٢﴾

( الله تعالی وفرمایل:همدغه عذاب یوازې) د کافرانو لپاره ځانګړی دی او هیڅوک یې مخه نشی نیولی.

مِّنَ ٱللَّهِ ذِي ٱلۡمَعَارِجِ ﴿٣﴾

د هغه ذات( الله تعالی) له لوری نازلیږی چې د عروج د لوړو پوړیو او درجاتو لرونکی دی.

تَعۡرُجُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥ خَمۡسِينَ أَلۡفَ

سَنَةٖ ﴿٤﴾

پرښتې او جبرئیل د( الله تعالی) حضورته د مشرف کیدو لپاره باید په دغو پوړیو پورته وخیژی، په یوه داسې ورځ چې پنځوس زره کاله اوږده ده.

فَٱصۡبِرۡ صَبۡرٗا جَمِيلًا ﴿٥﴾

نو صبر وکړه- داسې صبر چې د یوه عالیشان شخصیت له شان سره مناسب وی( او له شکایتونو او ناشکری له بیانولو نه پاک وی).

إِنَّهُمۡ يَرَوۡنَهُۥ بَعِيدٗا ﴿٦﴾

د ښمنان او مخالفین( د قیامت قیام) ډیر لیری( بلکه ناممکن) ګڼی.

وَنَرَىٰهُ قَرِيبٗا ﴿٧﴾

خو مونږ ته ډیر نږدې ښکاری.

يَوۡمَ تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلۡمُهۡلِ ﴿٨﴾

هغه ورځ چې آسمان د ويلی شويو مسو شکل غوره کړی.

وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ٩

او غرونه د ډانډس شويو وړيو په شان خواره واره شی.

وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا ١٠

او هيڅ دوست به له خپل( صميمی) دوست نه هم(د هغه د حال احوال) پوښتنه ونشی کولی.

يُبَصَّرُونَهُمْ ۚ يَوَدُّ ٱلْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِى مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍۭ بِبَنِيهِ ١١

هغوی به يو بل ښه وينی( او د يو بل په حال به ښه خبر وی، خو هر يو به پخپل غم اخته وی او د بل درد به نشی دوا کولی). د مجرمينو او ګناهکارانو لويه ارزو به دا وی چې کاش ځامن يې د عذاب په بدل کې په فديه ومنل شی.

وَصَـٰحِبَتِهِۦ وَأَخِيهِ ١٢

او يا يې د ژوند ملګرې او ورور( ومنل شی).

وَفَصِيلَتِهِ ٱلَّتِى تُـْٔوِيهِ ١٣

او قبيله او قوم يې( چې په دنيا کی يې) ورته پناه ورکړې وه.

وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنجِيهِ ١٤

او( حتی) د ځمکې ټول موجودات يې( په فديه کې ومنل شی) او دی( له عذابه) وژغورل شی.

كَلَّآ ۖ إِنَّهَا لَظَىٰ ١٥

نه -( دوی له عذابه نشی خلاصيدی بلکه دا (د هغه دوزخ)د اور لمبې دی:

نَزَّاعَةً لِّلشَّوَىٰ ١٦

چې (د سر او اندامونو) پوستکی وباسی.

تَدْعُوا۟ مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ١٧

او هر هغه( مجرم خپلې غيږې ته) راغواړی چې( له حق نه يې) په انکار سره مخ ګرځولی و.

وَجَمَعَ فَأَوْعَىٰ ١٨

مال او شتمنی به یې راټولوله او بیا به یې ذخیره کوله.

۞ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾

بې له شکه چې انسان حریص او تلوار کوونکی پیدا شوی.

إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا ﴿٢٠﴾

که رنځ او مصیبت ورته ورسی په بې صبرۍ سر تندی وهی.

وَإِذَا مَسَّهُ ٱلۡخَيۡرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾

او که خیر او خوښی( او مال او هوسایی) یې په برخه شی نو بیا زړه تنګی او بخیل وی.

إِلَّا ٱلۡمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾

خو لمونځ کوونکی( له دغو ناوړو خصوصیتونو څخه) مستثنی دی.

ٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ دَآئِمُونَ ﴿٢٣﴾

هغوی چې په تداوم( او پابندۍ د ټولو ارکانو په رعایت او سکون او اطمینان) سره لمونځونه اداء کوی.

وَٱلَّذِينَ فِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ مَّعۡلُومٞ ﴿٢٤﴾

او( هغه کسان هم په هلوعا کې شامل نه دی چې) پخپل مال او شتمنی کې یې( د زکات او صدقاتو) برخه جلا کړی ده.

لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ﴿٢٥﴾

د (تش لاسو) سوالګرو او هغو بې وزلانو لپاره( چې له بې وسۍ سره سره، چاته د سوال لاس نه اوږدوی).

وَٱلَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٢٦﴾

او هغوی( هم هلوع نه دی) چې د مکافات او مجازات ورځ( قیامت) رښتینې ګڼی.

وَٱلَّذِينَ هُم مِّنۡ عَذَابِ رَبِّهِم مُّشۡفِقُونَ ﴿٢٧﴾

او هغوی( هم له هلوعا نه مستثنی دی چې د ټینګ ایمان، عبادتونو او نیکو اعمالو سره سره بیا هم) د خپل رب له مؤاخذې نه په ویره کې دی.

إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمۡ غَيۡرُ مَأۡمُونٖ ﴿٢٨﴾

بیشکه چې د دوی د رب له مؤاخذې نه څوک خلاصیدی نشی.

وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ ﴿٢٩﴾

او هغوی( هم په هلوعا کې شامل نه دی) چې خپلې لمنې( له حرامو شهوتونو څخه) پاکې ساتی.

إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ ﴿٣٠﴾

خو بې له خپلو میرمنو او وینځو څخه یې، چې د هغوی په برخه کې وربانديې کومه گناه او ملامتی نشته.

فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ ﴿٣١﴾

او څوک چې له( خپلو میرمنو او وینځو) نه غیر، نورې جنسی اړیکې ساتی، نو له حدودو تیری کوونکی گڼل کیږی.

وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ ﴿٣٢﴾

او هغوی( هم هلوعا نه دی) چې د خپلو امانتونو او تعهداتو پالنه او مراعات کوی( نه د چا په امانت کې خیانت کوی او نه خپل تعهدات ماتوی).

وَٱلَّذِينَ هُم بِشَهَٰدَٰتِهِمۡ قَآئِمُونَ ﴿٣٣﴾

او هغوی( هم هلوع نه دی) چې پخپلو شهادتونو او گواهیو تینگ ولاړ او متعهد دی.

وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ﴿٣٤﴾

او هغوی هم( چه له ظاهری او باطنی شرایطو او ارکانو سره سم په ټاکلو وختونو کې په مواظبت سره) خپل لمونځونه اداء کوی( له هلوعا نه مستثنی دی).

أُوْلَٰٓئِكَ فِي جَنَّٰتٖ مُّكۡرَمُونَ ﴿٣٥﴾

د دغو صفاتو لرونکی به د معززو او محترمو شخصیتونو پحیث په جنتونو کې هستوگن وی.

فَمَالِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قِبَلَكَ مُهۡطِعِينَ ﴿٣٦﴾

( ای پیغمبره!) په دې کافرانو څه شوی چې تا ته په منډو منډو راروان دی؟

عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ عِزِينَ ﴿٣٧﴾

په کین او ښې اړخ درنه ډلې ډلې راچاپیر دی( د دې لپاره چې ټوکې او مسخرې وکړی او داسې گډوډی او بې نظمی جوړه کړی چې خلک ستا وعظ او نصیحت او قرآنی آیتونو ته دقت او پاملرنه ونه کړی).

أَيَطْمَعُ كُلُّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٍ ﴿٣٨﴾

( د جنت د مستحقینو صفات خو بیان شول) نو آیا دغه کافران( چې د حق وینا اوریدلو ته تیار نه دی او بلکه د حق اواز د خفه کولو لپاره منډې ترړې هم وهی) له نعمتونو نه د ډک جنت هیله کولی شی( او یا یې مستحق کیدی شی؟ بلکه هیڅکله نه).

كَلَّآ ۖ إِنَّا خَلَقْنَٰهُم مِّمَّا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾

داسې نه ده( چې دوی ګومان کوی) بلکه مونږ دوی له هغې( بې ارزښته او حقیرې نطفې څخه) پیدا کړی چې دوی یې پخپله پیژنی( او خپل خلقت ته په کتو سره باید په دې حقیقت پوه شی چې الله تعالی د دوی په بیرته راژوندی کیدو هم پوره طاقت لرونکی او برلاسی ذات دی، او دوی هیڅکله هم زمونږ له مؤاخذې نه تښتیدی نشی).

فَلَآ أُقْسِمُ بِرَبِّ ٱلْمَشَٰرِقِ وَٱلْمَغَٰرِبِ إِنَّا لَقَٰدِرُونَ ﴿٤٠﴾

نو د مشرقونو او مغربونو په رب سوګند چې مونږ دا قدرت او پیاوړتیا لرو:

عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴿٤١﴾

چې( د اسلام د خدمت لپاره د مکې له اوسیدونکو نه) نور ښه کسان راوړاندې کړو، او هیڅوک زمونږ د ارادې مخه نشی نیولی( لکه چې الله تعالی د دغې وعدې په اساس د مدینې منورې انصارو ته د پیغمبر د ملاتړ ویاړ ور په برخه کړ).

فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا۟ وَيَلْعَبُوا۟ حَتَّىٰ يُلَٰقُوا۟ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴿٤٢﴾

نو پریږده چې کافران په ټوکو او مسخرو کې ډوب وی، ترڅو ورباندې هغه ټاکلې ورځ راورسی چې له دوی سره یې وعده شوې ده.

يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴿٤٣﴾

هغه ورځ چې په تلوار به له خاورو راپورته او ځغلی، ته به وا د کومې ټاکلې نښې په لور منډې وهی.

خَٰشِعَةً أَبْصَٰرُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمُ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾

هغه ورځ چې سترګې به یې( د ویرې د شدت او پښیمانۍ له امله) ټیټې او دوی به خوار او ذلیل وی. دا هغه ورځ ده چې تل به یې دوی ته وعده ورکول کیده.

« تمت سورة المعارج بفضل الله و عونه»

========================